نور باغونه د نوروز په ورځ غوړيږي
په اهاړ کا غوړيـــــده د کـــــابل باغ
(خوشحال خان خټک)

# نوی کال او د نوروز جشن



**پوهاند محمد بشير دوديال**
ليکوال او د پوهنتون استاد

ناشر: شبکه چندرسانه‌ای بلوآی - بخش نوروزنامه
تاریخ انتشار: ۱۴۰۴/۰۱/۱۱

نوروز د وياړلو آريائيانو (نجيب زاده ګانو) جشــــــن دی. اوس دغه ورځ د افغانســـــــتان ترڅنګ په نورو ګاونډيو؛ لکه ايران، تاجيکستان، پاکستـان او آن هند کې لمانځل کيږي. سږکال دغه ورځ په نړيواله کچه رسماً وپيژندل شوه. زموږ په ګڼ شمير تاريخي آثارو کې د حماسو يادونه او زموږ د باتورو نيکونو د کار او کښــــت د موسم د پيل ورځې او د يما (جمشـــيد) تدبير او د اوسني افغانستان تمدن، صنعت، سوداګری او د کروندو او بڼونو پريماني له همدې ورځې سره يادې شوې دي.

نوروز يعنی نوې ورځ. له دې څخه موخه د وري (حمل) د مياشــــــــتې لومړۍ ورځ ده چې په همدغه ورځ لمر د وري برج ته رسيږي او شپه او ورځ سره برابريږي. همدا د پسرلي پيل دی چې په دغه ورځ ربيعي اعتدال پيښيږي او د پسرلي برابروالی يې بولي. ځينې وايي چې د (نوروز) کلمه له دې عقيدې څخه رامنځته شـــــــوی چې ويل کيدل به چې نړۍ د لمريز نظام په راڅرخيدو رامنځته شـوی او آدم هم په دی ورځ خلق شـوی دی، نو خلکو ورته (نوې ورځ) نوم ورکړی دی. يعنی دغې ورځې ته ديني ارزښت هم ورکړل شوی، چې هغه د آدم (ع) د خلقت ورځ ده.

اما د لرغوني اريانا په اړوند لاسوندونو کې د دې ورځې يادونه تر ټولو ډيره راغلې ده، مثلاً تاريخ ليکلي چې: لرغونی بلخ د پنځه زره کلن تاريخ په ترڅ کې، د لويو تمدنونو زانګو وه او د يوه روايت له مخې وروســــته تر بابل او نينوا څخه په نړۍ کې همدا دوهم تمدن و. له ډير پخوا څخه او د آريائيانو پر مهال نوروز د کال د لومړۍ ورځې او د بزګر د جشـــــن د ورځې په توګه او د آريائيانو د حاکميت د پيل د ورځې په توګه پيژندل شـوې او د آريائيانو د واکمنی په ټوله سـيمه يعنی له آمو څخه تر سـند پورې او له هند سـمندر څخه د عربو تر سـمندرګې پورې دغه ورځ لمانځل کيده، نن ورځ هم همدغې جغرافيا کې لمانځل کيږي. د روضـــه المنجمين په کتاب کی چې شميران بن ابي الخير هغه په پنځمه قمري پيړۍ کی ليکلې، داسې راغلي دي:

نوروز هغه ورځ ده چې په هغې کی کيومرث ديو وواژه او جمشـيد خلکو ته د بخښـــنې، روغتيا او اوږد ژوند زيری ورکړ، نو ځکه نوروز د آريانا د لرغوني تاريخ يوه وياړلې ورځ ده. په اوستا کې د نوروز کلمه نه تر سترګو کيږي، خو په پهلوي کتابونو کې، په تيره بيا هغو برخو کې چې کليزه په کې ښـــودل شـــوې ده، نوروز پکې ډير ليدل کيږي. د بيلګې په توګه پکې راغلی چې: د نوروز جشن پنځه ورځنی جشن (ګاهنبار) دی چې په دې ورځ نړۍ پيدا شوی ده او انسان پکې پيدا شوی.

هغه بله اسطوره چې نوروزي جشـــــن سره یو ځای ده، خدای ته د دعا کولو اسطوره ده چې د کال په همدې مهال به ترسره کیده. د دغې اسطورې اتل چې د اورې د میاشتو د غرمو د تودوخې خوشحالي ده او کار یې دا دی چې کله د ژمي دیو په نړۍ باندې یرغل کوي، نو تر ځمکې لاندې پټیږي او تر ځمکې لاندې اوبه تودې ساتي تر څو ونې او بوټي له منځه لاړ نه شي. د ده بیرته راتګ په پســرلي کې دی. په پســرلي کې د ونو غوټۍ د دغه اتل د بریالیتوب نښـــه ده. په دې توګه نوروز د بریالیتوب یو سمبول او په جګړو کې د نیکۍ عنصـر دی. همدارنګه آریائیانو په لرغونو وختونو کې کال په دوو برخو ویشـــلی و؛ یو تود او بل سوړ فصــل. تود فصــل یې اووه میاشتې او سوړ یې پنځه میاشتې ښودلی و. ځینی وخت به اوړی دوه میاشتې او ژمی لس میاشتې، ځینی وخت اوړی اووه میاشتې او ژمی پنځه میاشتی و.

د اوړی په پیل کی به یې رمې او څاروي له غوجلو څخه شـــنو ورشـــوګانو ته خړولو ته بیول او د ژمي په پیل کې به یی د ژمي له توښې او زیرمې سره غوجلو ته راوســتل. په دې توګه دواړو ته یې د کال پیل وایه او خوښـــي به یې کوله. نن ورځ هم د نوروز له ورځې سره سم د آسونو، کچرو او خرو څټونه او لکی سکښتل کیږي. داسې ویل کیږي چې دا خبره له هماغه وختورا پاتې ده. په دې ورځ کروندګر کروندو او باغونو ته وځي او ښونه صفا کوي او کروندې پســـتوي، ترڅو تخمونه پکې وکري. په دې توګه ویلای شو چې بزګري کلیزه د کرلو او د درمندونو د اخیســتو له مخې جوړه شوې وه. په اوستایي کلیزه کې کال دولس میاشتې او هره میاشـــــــت دیرش ورځې وه. همدارنګه په هغه مهال کې هرې دیرش - دیرش ورځې د ځانګړي نوم لرونکې وې چې لومړی یې (اورمزد روز) وه یعنـي د اهورامزدا یا د نیکـی د خدای ورځ. له دې کبله چـې اورمـزد روز هم د کال پیل و او هم د میاشتې، نو ځکه یې پرتم اوچت و.

د ساسانیانو پرمهال د نوروز جشــــن د خراج او مالیاتو دراټولولو او د سکې د دوران کولو وخت و چې د اوړي موسم سره برابر و، یعنې دا له صیفي انقلاب (د اوړی د فصــــــــل د میوو او کرنې وخت) سره برابر و. دا مهال به نعمتونه پریمانه وو، غلې دانې به راټولې شوې وې او میوه به هم پیدا کیده. په داسې وخت کی به د زردشـتیانو امام د سـروزرو له جام، ګوتمی، دینار (د سـروزرو پیسی) او درم (د سپینو زرو پیسې) او یو ګورت تازه شنیلې سره چې توره، لیندی، مشـوانۍ او قلم به هم ورسره وو د پاچا دربار ته راته او پاچا ته به یې دعا او ستاینې کولې. وروسته به د دولت لوړپوړي او مشـــران یو یو د پاچا دربار ته راتلل او د زردشتی دین علماوو او روحانیونو ته به یې غوږ نیوه. د دین علماوو به پاچا ته ویل:

«ای پاچا! تل دې ژوندی وی! خوشحاله اوسې! ځواني دې تلپاتې اوسه...»

په پښتو ادب کې هم د نوروز ډیر ذکر شوی دی، مثلا خوشحال خټک فرمایي:

د نـوروز مـنـت پـــه بـــاغ دی پـــه صـحـرا هـم

نـــورانـي یـې شـیـلـــه فـیـضـه هـغـــه، دا هـم

چې پـــه بـــاغ کـې رنـګـارنګ ګـلـونـه وا شـي

غـــنـیـمـت ده د ګـــلـــــونـــــــو تـمـــاشـا هـم

زموږ لیکوالو او شاعرانو دغې بختورې ورځې ته د خوښیو د زیري راوړونکې په توګه کتلي دي. علامه رشاد او لوی استاد علامه

عبدالحی حبیبي د نوروز تاریخی شـالید تر ټولو ښــه شــنلی او له معلوماتو ډکې مقالې یې زمونږ په واک کې شــته. د تاریخ په شهادت:

د جلال الدین ملکشاه سلجوقي په وخت کې چې قمري کلیزه د سپوږمی له مخې جوړیده، نو ګډوډي پیښـــــــه شوه او د میاشتو او ورځو نظم ورک شو. په ۴۵۸ لمریز کال د ۴۷۱ قمري کال د رمضان د جمعې په شپه چې له ۱۰۷۹ میلادي کال سره برابره وه، دغه ورځ له نوروز سره برابره شوه. پاچا یو شمیر منجمانو ته وویل چې شمسي کلیزه جوړه کړي. نو په دې ډول سره د ریاضـي پوهانو او منجمانو په خواریو، د یو شــمیر محاســباتو له مخې د کال پیل د ربیعي اعتدال په نقطه کې وټاکل شــو او په نجومي حساب سره کال دایمي او ثابت وټاکل شو. په دې ډول نوروز د کال پیل او د پسرلي لومړی ورځ شوه چې د نړۍ تر ټولو طبیعي او اوچته لمانځنه او جشن همدا دی، نو ځکه زمونږ کلیزې ته جلالي کلیزه وایی. حافظ وایی:

می اندر مجلس آصف به نوروز جلالی نوش
که بخشد جرعه جامت جهان را ساز نوروزی

ابوریحان البیرونی خپل (آثارالباقیه) کې دغه اووه خوراکونه ښـودلي دي، خو د هغو لومړني توري یې نه دي ښـودلي، حال دا چې د نوموړي په باور به دغه اووه میوې یا غلې- دانې دا وې: غنم، وربشې، مې، باقلي، نخود او داسې نور چې دا هره یوه دانه د برکت او پریمانی استازیتوب کوي. ممکن دغه د سـین توري به یو وخت کی (چین) و چې موخه ور ځخه راټوله شـوې میوه ( چیدن، چیده شده) وه چې وروورو چین په سین بدل شـوی دی چې خلکو بیا اووه چینې لوښــې ګڼلي دي او یا له هغو ځخه هغه لوښي تعبیر شوي چې په هغو کې خواړه او نور خوراکونه ایښودل شوي وي.

اوس چې خلک نوروز کی کوم اووه خوراکونه جوړوی او نومونه یې په دري ژبه کې په سین پیل کیږي هغه دا دي: سابه، سرکه، سمنک، سنځله، هوره، خریری او منه.

زمونږ هیواد کې ځینې وخت هفت سین میوه کې وچه میوه هم ورګډیده لکه پســــته او ممیز او نور. خو خلکو به نوروز کې دغه میوې چمتو کولې: زردالو (قیســـی)، شکرپاره، مُنقه، سنځلی، پســـته، بادام او ممیز. دغه اووه میوی به یی په تودو اوبو کې کیښودې او بیا به چی پستې شوې، هغه به یې خوړلې.

تا هفت میوه سرد شد و دلپذیر گشت
دل گرمیم ز جانب آن ناگزیر گشت

د نوروز دغه هفت سین میوې ادبیاتو کې ځانګړی ځای وموند او زمونږ یو شمیر لیکوالو په دې برخه کې خواږه شـعرونه ولیکل. هغه لومړنی شاعر چې لومړی ځل یی (هفت سین) خپله قصیده کی وکاراوه، هغه قاآنی و، هغه لیکي:

عید شد ساقی بیا، در گردش آور جام را
پشت پا زن دور چرخ و گردش ایام را
سین ساغر بس بود ای ترک، ما را روز عید
گر نباشد هفت سین رندان دُرد آشام را
خلق را بر لب حدیث جامهٔ نو هست و من
از شراب کهنه میخواهم لبالب جام را
هر کسی شکر نهد بر خوان و بر خواند دعا

من ز لعل شکرینت طالبم دشنام‌را

هر تنی‌را هست سیم و دانهٔ گندم به دست

مایلم من دانهٔ خال تو سیم اندام‌را

سیر بر خوان است مردم‌را و من از عمر سیر

بی دلارامی که برده است از دلم آرام‌را

پسته و بادام، نقل روز نوروز است و من

با لب و چشمت نخواهم پسته و بادام‌را

عود اندر عید میسوزند و من نالان چو عود

بی بتی کز خال هندوره زند اسلام‌را

یکدیگر ر اخلق میبوسند و من زین غم هلاک

کز چه بوسد دیگری آن شوخ شیرین کام‌را

سر که بر دستارخوان خلق و همچو سر که دوست

می کند بر ما ترش رنگین رخ گلفام‌را

او دا هم د خوشحال خان خټک له دیوان څخه یوه تحفه:

بر برِ رایشـــــــــــــــــه نوروزه دل افروزه !

ستا په وخت مې آسوده شي، سترګې پوزه

ستا په وخت سترګې، د باغ ګلونه ګوري

پوزه هم کاندې د بوی خوښې اندوزه

مورِ لا هم ستا له طفیله حظ حاصل کا

مغني شي عندلیب په څو-څو سوزه

په وصال د معشوقې عاشق فېروز شي

د ګلزار په وخت بلبله وي فېروزه

خپل غوړونه ورته څک کړه، ګوندې واورې

راز د مینې د بلبلو له للوزه

د نوروز له فیضه بوټې خالي نه وي

فیض یې رسي هم تر سپاندې، هم تر ځوزه

که همه عمر د باغ ګلونه ګورم

زما خوا به پرې سړه نه شي هنوزه

د سهار هوا هر ګوره ښه هوا ده

که آفت ورپسې ته نه وای تموزه

په راتله ور لره ډېره خوښي راوړې

په خوشحال باندې دې قدر دی نوروزه!

شبکه چندرسانه‌ای بلوآی
بخش نوروزنامه

www.blueye.me | info@blueye.me

+49 176 21 71 06 75